## څلور کلن پرتمين سفر، اړتيا او تداوم

د زمري اته ويشتمه پرتمينه ورځ ده. له يوې خوا د افغانستان د خپلواکۍ دری نويمه کليزه ده او له بلې خو د «آزاد افغانستان» پورتال څلورمه کليزه. دواړه پرتمينې ګڼل کيږي دي او ښايي د خپلواکۍ د ډګر د مبارزينو لخوا په برم سره ولمانځل شي. «سيند خپرندويه» د دې دواړو ورځو په رارسيدو سره ټولو ستمځپلو هيوادوالو ته مبارکي وايي.

د «افغانستان آزاد — آزاد افغانستان» ويب پاڼه څلور کاله وړاندې د يو شمير مبارزو روڼ اندو لخوا په کار پيل وکړ چې په تيرو څلورو کلونو کې د استقلال او خپلواکۍ لپاره مبارزه کړی او د يرغلګرو د ستمونو او جنايتونو د بربنډولو په تړاو يې بی ځنډه هڅه کړی چې له بده مرغه په نورو انټرنيټي پاڼو کې يې ساری يا نه ليدل کيږي او يا يې هم کچه ډيره ټيټه ده.

«سيند خپرندويه» وياړ لري چې په دې سفر کې د خپلو مبارزو دوستانو تر څنګ د «پورتال» له لارې د انقلابي او مخکښو ادبياتو د معرفی په برخه کې کار کړی دی او د همدې پورتال د پاڼو په مرسته يې انقلابي سياست ولسونو ته ورپيژندلی دی. که څرګنده ووايو د «پورتال» شتون د دې لامل شو چې «سيند خپرندويه» په جديت سره د خپلو خپرونو لړۍ ته ادامه ورکړي او د پورتال د څلورمې کليزې په وياړ د افغانستان د ستمځپلي ولس سره ژمنه کوي چې دا لړۍ به ادامه ومومي.

د «افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان» پورتال کومه سرګرمي نه، بلکې د افغانستان د اوسني ښکيلاکي وضعيت په پام کې نيولو سره هغه اړتيا ده چې تداوم يې لا اړتيا ګڼل کيږي. دا وخت چې په سلګونه رسنی د وب پاڼو په ګډون د ښکيلاک لپاره کار کوي او د فرهنګي چاکرانو په توګه امپرياليستانو او ګوډاګيانو او د سيمې ارتجاعي او ولس دښمنه دولتونو ته په جاسوسی بوخت دي، د پورتال شتون او مبارزه ځانګړی اهميت مومي او د «سيند خپرندويه» چلوونکي د دې مبارزې د بډاينې لپاره د هيڅ ډول مرستې او کمک څخه ډډه نکوي او د وس او توان سره سم د دې مبارزې د بلينډې د لا روښانه ساتلو لپاره کوښښ کوي.

د پورتال د څلورمې کليزې په وياړ، ښايي د ټولو مبارزو دوستانو، روڼ اندو، ليکوالانو، ژباړونکو، فرهنګيانو او ژمنو زيارکښانو څخه په درنښت هيله وکړو چې د انقلابي او ولسي سياست او ادبياتو د دودلو لپاره د «سيند خپرندويه» سره مرسته وکړي، څو هغه انقلابي او پرمختللي کتابونه او رسالې چې د دوستانو لخوا په وړيا توګه ژباړل شوي د نورو دوستانو د مرستې په مټ چاپ او ټولنې ته وړاندې شي، دا کار به د ارتجاعي هنر او ادبياتو په وړاندې انقلابي ادبيات دود او د لا بډاينې په برخه کې به يې مرسته وکړي.

د همدې هيلې سره، يو ځل بيا د «افغانستان آزاد– آزاد افغانستان» پورتال ګرانو مبارزو چلوونکو ته د څلورمې کليزې مبارکي وايو او د هغوې د مبارزې بلکه لا روښانه غواړو.

په درنښت

سيند خپرندويه

د ۱۳۹۱ کال د زمري اته ويشتمه